اخترمحمد یوسفی

# د افغانستان د ملی ارزښتونه سره لوبی




**دافغانستان اوسنی چارواکی د گران هیواد افغانستان د مډالونو او د افتخاراتو وړ نښانو تاکل او ویښلو څخه چی د هیواد والو ویاړلو خدمتونو او قدردانی لپاره دی، دهغو ملی افتخاراتو څخه دوی د کوچینیانو لوبه جوړه کړیده.**






**دا ټپل شوی واکداران نه یواځی دا چې د دهیواد د دښمنانو د ټپل شوی جګړی د جنایایتکارانو په نامه د خپلی ګیډی ځخه هم مډالونه او نښانونو ایستلی دی، بلکی د هیواد مډالو او نښانونه یی و نا مستحق کسانونه ته هم ویښی چې د دوی ناروا کړنو د افغانستان مډالونو او نښانو ملی حیثیت او اعتبار یی کاملآ له مینځه وړیدی.**
**دا ټپل شوی واکداران خیال کوی چې د هیواد ملی مډالو او نښانونه کشمش نخود دی چې و هرچا ته ورکوی. لاندی شیطانی مثلث ته په ځیر سره وګوری.**



حامد کرزی او اشرف غنی د اوسنی د هغه واکدارانو ځخه دی چې د افغانستان لپاره هیڅ ډول ملی او بین المللی حیثیت پریښی ندي. دحامد کرزی او اشرف غنی او د دوی «جهادی» غلو په داکمنی کښی د هیواد او خلکو ټول ملی شتمنی چور شول. حامد کرزی او اشرف غنی د بهرنی دوستانو او دښمنان تر منځ توپیر نه کوی، د امریکا د متحده ایالاتو او غربی نړی سره په اړیکو کښی که دوی پیسی ورکړی نو دوستان دی، او د خولی یی د تعریفا ځخه ډکه وی، او که دوی ته پیسی ونه رسیږی نو سمدلاسه د امریکا او غربی نړی په بد ویلو پیل کوی. حامد کرزی سره له دی چې خپله دوی دوری د جمهوری ریاست تیر کړیدی، مګر د هیواد د ورانول ځخه لاس نه اخلی. حامد کرزی د افغان دولت په منځ کښی د افغانستان د تخریب لپاره ځانته بل حکومت لری.

**ددی نا اهله او بیشرمه رهبرانو رول د هیواد د ورانیو په ربښتنی تصویرونه کښی ښه وګوری، په لاندی عکسونه کښی هیوادوال د خپل شهید زامنو د قبر پر سر د شپی لخوا بیدیږی، مګر پدی رهبرانو کښی هیڅ داسی یو باغیرته رهبر هم پیدا کیږی چې د که د هیوادوالو مصونیت نشی ساتلی، نو اقلاً په میړانه دی له خپله دندی ځخه استعفا هم نه کوی.**




